**مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی**
**د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز**

# تحلیل هفته

**شماره: ۱۵۸** (از ۲۲ الی ۲۹ حوت ۱۳۹۴ هـ ش)

**این نشریه مجموعۀ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار از آن استفاده نمایند.**

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

- مقدمه...... ۲

**د افغان حکومت – حزب اسلامي د سولې خبرې: مخينه او راتلونکې**

- د حزب اسلامي ګوند مخينه او انشعاب...... ۴
- د افغان حکومت او حزب اسلامي د خبرو اترو مخينه...... ۵
- د افغان حکومت-حزب اسلامي د خبرو اترو د ناکامۍ عوامل...... ٦
- څلور اړخيزې خبرې اترې او حزب اسلامي...... ۸

**سال ۱۳۹۵ و چالش‌های پیشرو**

- صلح...... ۱۰
- امنیت...... ۱۱
- فساد اداری...... ۱۲
- مهاجرین...... ۱۳
- اقتصاد...... ۱۳
- اختلافات داخلی حکومت...... ۱۴

## مقدمه

په داسې حال کې چې افغان طالبانو د سولې د مخامخ خبرو لپاره د افغانستان، پاکستان، چین او امریکا په څلور اړخیزو مذاکراتو کې ګډون رد کړ او په خپل پخواني دریځ یې ټینګار وکړ، حزب اسلامي (حکمتیار) تېره اوونۍ له افغان حکومت سره د سولې خبرو اترو ته چمتووالی وښود. د دغه ګوند یو پلاوی کابل ته راغی او له افغان حکومت سره یې د سولې خبرې اترې پیل کړې. دا چې حزب اسلامي له تېرو څو کلونو راهیسې ډېر ځله خپل پلاوي د سولې د خبرو اترو لپاره کابل ته رالېږلي، خو لا یې هم کومه څرګنده پایله نه ده لرلې، دلته له افغان حکومتسر ه د دغه ګوند د سولې د خبرو اترو د ناکامۍ پر عواملو او مخینه شننه لولئ.

د تحلیل په دویمه برخه کې، په ۱۳۹۵ کال کې هېواد ته د وړاندېښو ننګونو په اړه لولئ. تېر کال په ټولیز ډول افغانستان او په تېره ملي وحدت حکومت له ګڼو ننګونو سره مخ و. حکومت په دې کال کې ونه توانېد، له اداري فساد سره رغنده مبارزه وکړي. دغه راز د سولې او امنیت په برخو کې هم د حکومت هڅې له ناکامۍ سره مخ وې. د خراب امنیتي وضعیت او پراخې بې‌کارۍ له کبله یو زیات شمېر افغان ځوانان د اروپایي هېوادونو په لور ولاړل. داسې برېښي، چې د تېر کال ستونزې او ننګونې به پر راتلونکي کال هم ژورې اغېزې وښندي او په دې کال کې به هېواد له ګڼو ننګونو سره مخ وي.

د اوونۍ تحلیل په دې ګڼه کې پر همدغو موضوعاتو د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز د اوونیز تحلیل د څانګې، شننې او څېړنې لولئ.

# د افغان حکومت – حزب اسلامي د سولې خبرې: مخینه او راتلونکی



حزب اسلامي (حکمتیار) د ۲۰۱۶ کال د مارچ په ۱۲مه د یوې رسمي اعلامیې په خپرولو سره څرګنده کړه، چې افغان ولسمشر اشرف غني حزب اسلامي ته د سولې په خبرو اترو کې د شامېلېدو بلنه ورکړې او دغه ګوند هم د ولسمشر غني دا غوښتنه منلې ده.[1] حزب اسلامي په خپله اعلامیه کې دا نه ده مشخصه کړې، چې دوی ته په څلور اړخیزو خبرو اترو کې د ګډون او که یوازې د حزب اسلامي او افغان حکومت ترمنځ د مخامخ خبرو اترو بلنه ورکړل شوې ده.

د دغه ګوند اړونده وېب‌پاڼه په یوه مقاله کې لیکي، چې له افغان حکومت سره د خبرو اترو لپاره یو دوه کسیز پلاوی ټاکل شوی دی.[2] د یوې سرچینې له قوله، د حزب اسلامي پلاوی له حکومت سره د خبرو اترو لپاره کابل ته رسېدلی دی.

[1] له افغان حکومت سره د سولې د خبرو په تړاو د حزب اسلامي رسمي اعلامیه، آنلاین بڼه:
http://www.dailyshahadat.com/index.php/site/lekani_details/1858
[2] په دې اړه نور جزئیات دلته وګورئ:
http://www.dailyshahadat.com/index.php/site/lekani_details/1863

دا لومړی ځل نه دی، چې حزب اسلامي له افغان حکومت سره د سولې او روغې جوړې د خبرو اترو لپاره چمتووالی ښيي او يا يې هم پلاوی کابل ته راځي، بلکې له دې وړاندې هم د حزب اسلامي ډلې، ډېر ځله خپل پلاوي له حکومت سره د خبرو اترو لپاره کابل ته رالېږلي دي، چې هېڅکله يې هم کومه څرګنده پايله نه ده لرلې.

دا چې په تېرو کلونو کې د حزب اسلامي او افغان حکومت ترمنځ د خبرو اترو مخينه څه ده، د دوی ترمنځ خبرې اترې ولې ناکامې شوې او د سولې په خبرو اترو کې به د حزب اسلامي ګډون څه اغېزې ولري؟ دلته پرې شننه کوو.

## د حزب اسلامي ګوند مخينه او انشعاب

حزب اسلامي په افغانستان کې يوه له هغو ډلو څخه ده، چې د څلورو لسيزو تاريخ لري او پيل يې د جمعيت اسلامي په شان له اسلامي نهضت سره تړل شوی دی. له شورويانو سره د جهاد پرمهال هم حزب اسلامي او جمعيت اسلامي د نورو جهادي ډلو په پرتله په هېواد کې پراخ نفوذ درلود. د شورويانو له وتلو وروسته په کورنۍ جګړه کې هم د نورو ګوندونو ترڅنګ دغو دوو ګوندونو ډېر رول درلود او کله چې طالبان د افغانستان په سياسي پرده راڅرګند شول، نو د حزب اسلامي ډله د افغانستان له سياست څخه بيرون شوه؛ ځکه طالبانو د حزب اسلامي تر واکمنۍ لاندې سيمې ونيولې او له کبله يې د حزب اسلامي مشر انجنير ګلبدين حکمتيار له افغانستانه ووت.

د طالبانو د واکمنۍ پرمهال حزب اسلامي د افغانستان په قضيه کې ډېر رول نه درلود؛ خو کله چې له ۲۰۰۱ کال وروسته پر افغانستان د امريکايي او ناټو ځواکونو د بريدونو په تعقيب، په هېواد کې د حامد کرزي تر مشرۍ لاندې د نوي نظام بنسټ کېښودل شو، نو انجنير ګلبدين حکمتيار افغانستان ته د بهرنيو سرتېرو راتګ د هېواد «اشغال» وباله او په دې توګه يې د حزب اسلامي ترنامه لاندې د بهرنيو ځواکونو پرضد وسله‌واله مبارزه پيل کړه، چې لا هم دوام لري.

له ۲۰۰۱ کال راهيسې د حزب اسلامي ډېری غړي په تدريجي ډول له پېښوره افغانستان ته راغلل او بيا د افغان حکومت برخه شول. په ۲۰۰۴ کال کې د خالد فاروقي ترڅنګ د دغه ګوند يو شمېر جګپوړو غړو د

لندېمهالې دورې له مشر حامد کرزي سره ولیدل او اړیکې یې له حکمتیار سره پرې شوې وبللې.[3] وروسته بیا د "حزب اسلامي" په نوم ګوند په افغانستان کې په رسمي توګه ثبت شو؛ خو بیا هم په کابل کې له حزب اسلامي سره تړل شوي کسان په یوه ګوند کې راټول نه وو، بلکې دوی په څو ډلو وېشل شوي وو چې لاهم تر همدې نامه لاندې شته دي. د بېلګې په ډول د عبدالهادي ارغندیوال، خالد فاروقي او وحیدالله سباوون ډلې یادولی شو. دغه اختلافات او انشعابونه له دې هم معلومېږي، چې د ۱۳۹۳ کال په ولسمشریزو ټاکنو کې د حزب اسلامي یوې ډلې له ډاکتر عبدالله عبدالله سره اېتلاف وکړ. بلې ډلې چې د حزب د شوراګانو د اتحاد په نامه وه، په لومړي پړاو کې له زلمي رسول څخه ملاتړ وکړ او بیا یې په دویم پړاو کې له اشرف غني څخه ملاتړ وکړ. د دغه ګوند پاتې غړو بیا په ټاکنو کې د قطب الدين هلال له نوماندۍ څخه ملاتړ وکړ.

## د افغان حکومت او حزب اسلامي د خبرو اترو مخینه

که څه هم معلومه نه ده، چې د افغانستان د سولې په تړاو له افغان حکومت سره د انجنیر ګلبدین حکمتیار تر مشرۍ لاندې د حزب اسلامي غړو له څه وخت راهیسې خبرې اترې پیل کړې؛ خو د رسمي اعلامیو له مخې معلومېږي، چې دغه خبرې اترې په ۲۰۱۰ کال کې پیل شوې. دلته د یوې خبرې یادونه اړینه ده، چې له دې نېټې وړاندې هم د دغه ګوند یو شمېر غړي له پېښوره کابل ته راغلل او دا خبره لاهم د بحث وړ ده، چې دوی په خپله خوښه راغلي وو او که د حکمتیار په خوښه؟

کله چې په ۲۰۰۹ کال کې بارک اوباما د امریکا ولسمشریزې ټاکنې وګټلې، نو د ۲۰۰۹ کال په پای کې یې له افغانستانه د خپلو سرتېرو د ایستلو پلان جوړ کړ، چې له مخې یې له ۲۰۱۱ کال وروسته د امریکایي سرتېرو د وتلو پیل پلان شوی و. حزب اسلامي په ۲۰۱۰ کال کې له همدغه نوي اعلان او د حامد کرزي-امریکا د خرابو اړیکو له فرصت څخه په استفادې سره، کابل ته د سولې د خبرو اترو په موخه یو پلاوی راولېږه، چې مشري یې ډاکتر غیرت بهیر او قطب الدین هلال کوله. حزب اسلامي هغه مهال سولې ته د رسېدو لپاره یوه ۱۵ مادهیي طرحه وړاندې کړه، چې مهم ټکي یې په لاندې ډول وو:

1. بهرني سرتېري باید د ۲۰۱۰ کال له جولای څخه وتل پیل کړي او په شپږو میاشتو کې باید له هېواده ووځي؛

[3] په "حزب اسلامي" کې د دغه انشعاب په اړه نور جزئيات دلته ولولئ:
http://www.jamestown.org/programs/tm/single/?tx_ttnews%5Btt_news%5D=26615&tx_ttnews%5BbackPid%5D=179&no_cache=1

2. بهرنيان بايد امنيتي واک افغان ځواکونو ته وسپاري؛
3. بهرنيان به د هېواد دننه بنديخانې نه جوړوي؛
4. دغه مهال به ښکېلې غاړې اوربند اعلانوي؛
5. د امريکايانو له وتلو وروسته به نور بهرني جنګيالي هم له هېواده وځي؛
6. د بهرنيو سرتېرو له وتلو وروسته به نوې پارلماني او ولسمشريزې ټاکنې کېږي او تر نويو ټاکنو پورې به اوسنی ولسمشر او پارلمان دوام مومي.[4]

د حامد کرزي حکومت د حزب اسلامي دغه وړانديزونه ونه منل او دغه خبرې اترې ناکامې شوې. وروسته د ۲۰۱۲ کال په اپريل مياشت کې د حزب اسلامي پلاوی د سولې د خبرو اترو په موخه داسې مهال کابل ته راغی، چې د طالبانو د قطر دفتر د پرانيستلو اوازې پيل شوې وې او افغان حکومت د قطر د دفتر له پرانيستې او د افغان طالبانو او امريکايانو ترمنځ د مخامخ خبرو مخالف و. د حزب اسلامي دغه پلاوي يو ځل بيا د سولې په تړاو خپله طرحه وړاندې کړه، چې بيا هم افغان حکومت څه غبرګون پرې ونه ښود.

په ۲۰۱۳ کال کې د حزب اسلامي پلاوي بيا کابل ته سفر وکړ؛ خو بيا يې هم د سولې په تړاو خبرې اترې ناکامې شوې. دا ځل يې يو غړی په کابل کې پاتې شو او بيا يې د ۱۳۹۴ کال په ولسمشريزو ټاکنو کې ځان نوماند کړ.

## د افغان حکومت-حزب اسلامي د خبرو اترو د ناکامۍ عوامل

د حامد کرزي د ولسمشرۍ په دويمه دوره کې څو ځله د حزب اسلامي پلاوي د سولې د خبرو اترو لپاره کابل ته راغلل؛ خو دغو خبرو اترو تر پايه څه پايله ونه لرله او افغان حکومت د خپلو وسلهوالو مخالفينو له دغې ډلې سره کومې ځرګندې پايلې او روغې ته ونه رسېد. د حزب اسلامي پلاوي د ۲۰۱۰ کال له مارچ مياشتې څخه د ۲۰۱۳ کال تر مې مياشت پورې ۱۷ ځله د سولې د خبرو اترو لپاره کابل ته راغلي دي[5]. له دې نېټې وروسته د

---

[4] د انجنير ګلبدين حکمتيار د دغې ۱۵ ماده‌يي طرحې د نورو جزئياتو لپاره لاندې لينک ته ټک ورکړئ:
http://www.longwarjournal.org/archives/2010/03/hekmatyars_peace_pla.php

[5] په دې اړه نور جزئيات دلته ولولئ:
https://www.afghanistan-analysts.org/adding-the-ballot-to-the-bullet-hezb-e-islami-in-transition/

حزب اسلامي نور پلاوي هم کابل ته راغلي دي؛ خو دا چې ولې د حزب اسلامي او افغان حکومت ترمنځ خبرې اترې ناکامې شوې، ګڼ عوامل لري چې مهم يې په لاندې ډول دي:

**د جګړې په ډګر کې د حزب اسلامي کم رول:** حزب اسلامي که څه هم له روسانو سره د جهاد پر مهال ستر ګوند بلل کېده او د ټول افغانستان په کچه يې د خلکو پراخ ملاتړ درلود؛ خو له ۲۰۰۱ کال وروسته له افغان حکومت او بهرنيو ځواکونو سره د دغه ګوند د وسله‌والې مبارزې ډګر د پخوا په څېر ګرم نه و. له ۲۰۰۱ کال وروسته د دغه ګوند زيات شمېر جګپوړو غړو د افغان حکومت په مهمو څوکيو دندې ترسره کړې او ځواک يې وويشل شو. دا چې د حزب اسلامي رول د جګړې په ډګر کې محدود و، نو افغان حکومت هم ډېر ارزښت ورنه کړ او د دغه ګوند شرطونه د هغوی د وسله‌والې مبارزې په پرتله ګران ورته ښکاره شول. د حامد کرزي حکومت د دې پر ځای چې له دغه ګوند سره سوله وکړي، له ګوند څخه د هغو مهمو افرادو رابېلولو هڅه وکړه چې کابل ته د خبرو اترو لپاره راتلل. په دې اړه قطب الدين هلال د بېلګې په ډول يادولی شو.

**له حزب اسلامي سره د ځينو لورو مخالفت:** حزب اسلامي د افغانستان د قضيې له ځينو ښکېلو ډلو سره پخوانۍ دښمنۍ لري. د دې ترڅنګ له افغان حکومت او بهرنيو ځواکونو سره د اسلامي حزب د وسله‌والې مبارزې په جريان کې هم وخت ناوخت دغه ګوند د شمال ټلوالې او هزاره قومونو په تړاو توندې اعلاميې نشر کړې. د شمالي ټلوالې او هزاره‌ګانو په تړاو د حزب اسلامي سخت دريځ او ورسره هم‌مهاله په افغان حکومت کې د شمالي ټلوالې او هزاره‌ګانو پراخ حضور د دې لامل شو، چې له دغه ګوند سره د خبرو اترو د بریالیتوب په لاره کې خنډونه جوړ شي او دا خبرې بريا ته ونه رسېږي.

**په خبرو اترو کې د حزب اسلامي سخت دريځ:** لکه چې مخکې وويل شول، حزب اسلامي (حکمتيار) له افغان حکومت سره د روغې جوړې لپاره خپله طرحه په ۲۰۱۰ کال کې وړاندې کړه، چې د دغې طرحې ځينو نکاتو ته په کتلو سره ويلی شو، چې افغان حکومت به پر هغو شرايطو هېڅکله هم له دوی سره سوله ونه کړي؛ ځکه د ډېرى شنونکو په اند، د حکومت له پاليسيو داسې ښکاري، چې له خپلو وسله‌والو مخالفينو سره د سولې نه، بلکې د هغوی د تسليمولو اراده لري.

**د نړيوالو او امريکا د ملاتړ نشتون:** نړيوالو هېوادونو په تېره بيا امريکا د افغان حکومت او د حزب اسلامي خبرو اترو ته ډېره پاملرنه ونه کړه؛ ځکه د دوی په اند حزب اسلامي په جګړه کې ډېر رول نه درلود. له همدې کبله دوی له افغان طالبانوسره پر خبرو اترو ډېر ټينګار کاوه.

**له طالبانو سره د حکومت د خبرو اترو لېوالتیا**: افغان حکومت هم په تېرو کلونو کې ظاهراً له طالبانو سره د خبرو اترو لېوالتیا لرله، دا چاره هم د دې لامل شوه، چې حکومت اسلامي حزب ته اهمیت ورنه کړي؛ ځکه حکومت فکر کاوه چې په دې توګه به اړ شي چې هرې ډلې ته جلا جلا امتیازات ورکړي.

**په خبرو اترو کې بدګمانی:** که څه هم د حزب اسلامي او افغان حکومت ترمنځ د روغې جوړې شونتیا ځکه ډېره وه، چې طالبانو د سولې په تړاو د افغان حکومت غوښتنې په تکراري ډول رد کړې او په بل اړخ کې د طالبانو او حزب اسلامي ترمنځ هم د جګړې په ډګر کې ټکرونه رامنځته شول، ځکه نو حزب اسلامي غوښتل چې د طالبانو خلاف عمل وکړي او له افغان دولت سره سوله وکړي. مګر دولت د دغه ګوند د سولې هڅو ته د امتیازونو ترلاسه کولو د لوبې په سترګه وکتل او ډېر اهمیت یې ورنه کړ. دا هم بل لامل و، چې دغه خبرې ناکامې شوې.

**د حزب اسلامي پاشلی دریځ:** له روسانو سره د جهاد له دورې راوروسته اسلامي حزب هغه ګوند دی، چې د نورو ګوندونو په پرتله یې زیات انشعاب تجربه کړی او همدا اوس هم د حکمتیار (حزب اسلامي) ګوند ترڅنګ په کابل کې د حزب اسلامي تر نامه لاندې څو ډلې فعالیت لري، لکه د عبدالهادي ارغندیوال، قطب الدین هلال او وحیدالله سباوون ډلې. د حزب همدغه پاشلی دریځ هم د دې لامل شو، چې له افغان حکومت سره یې خبرې اترې ناکامې شي.

## څلور اړخیزې خبرې اترې او حزب اسلامي

افغان ولسمشر اشرف غني په پاکستان کې د افغان سفیر محمد عمر زاخیلوال په لاس حزب اسلامي (حکمتیار) ته د سولې په پروسه کې د ګډون بلنه ورکړه، چې وروسته حزب اسلامي (حکمتیار) دغه وړاندیز د یوې اعلامیې په خپرولو سره ومانه.

حزب اسلامي (حکمتیار) دغه اعلامیه داسې مهال خپروي، چې افغان طالبانو په څلور اړخیزو خبرو اترو کې ګډون رد کړی. د حزب اسلامي اړوندې وېب‌پاڼې له مخې د حزب اسلامي یو پلاوی کابل ته راغلی او ښايي د سولې په تړاو به له افغان حکومت سره خبرې وکړي. دا چې حزب اسلامي به له افغان حکومت سره د سولې په تړاو یوازې مخامخ خبرې اترې وکړي او که په څلور اړخیزو ناستو کې به هم برخه واخلي، تر اوسه معلومه نه ده.

ښايي له افغان حکومت سره د حزب اسلامي له مخامخ خبرو اترو وروسته، په راتلونکو اوونيو کې په څلوراړخيزو ناستو کې د دوی د ګډون پرېکړه روښانه شي.

په څلور اړخيزو خبرو اترو کې د طالبانو د ملا اختر محمد منصور د ډلې د نه ګډون له کبله، په دغو خبرو اترو کې د نورو ډلو د ګډون ارزښت څکه زيات شوی، چې د طالبانو د نه ګډون له کبله دواړه پاکستان او افغان حکومت له ناکامۍ سره مخ شوي. له همدې امله به ښايي دوی په راتلونکو اوونيو کې په څلور اړخيزو ناستو کې د حزب اسلامي (حکمتيار) ډلې، د طالبانو د ملا محمد رسول ډلې، د مولوي خالص حزب اسلامي ډلې اړوندو کسانو او د ملا اختر محمد منصور له ډلې د ځينو افرادو د شاملېدو هلې ځلې وکړي.

په ټوليز ډول ويلی شو، چې د افغان حکومت په وسلهوالو مخالفينو کې د ملا اختر محمد منصور ډله د جګړې د ډګر تر ټولو پياوړې ډله ده او د سولې په مذاکراتو کې د دوی نه ګډون به افغانستان ته سوله رانشي وړای. د دې ترڅنګ که حزب اسلامي (حکمتيار) ګوند په څلور اړخيزو خبرو اترو کې ونډه هم واخلي، د دې معنا به ونه لري چې دوی به د بهرنيو ځواکونو په شتون کې په افغان حکومت کې شامل شي؛ بلکې دوی به هم د طالبانو پر څېر د بهرنيانو پر وتلو او د دوی د وتلو پر مهالوېش ټينګار وکړي، کوم څه چې تراوسه هم د سولې پر وړاندې اساسي خنډ بلل کېږي.

# سال ۱۳۹۵ و چالش‌های پیشرو



افغانستان در سال ۱۳۹۴ با مشکلات و چالش‌های جدی مواجه بود و می‌توان این سال را پرچالش‌ترین سال برای حکومت افغانستان در یک و نیم دههٔ گذشته عنوان نمود. هرچند وضعیت کشور در سال ۱۳۹۵ دقیقا پیشبینی شده نمی‌تواند، اما به نظر می‌رسد که مشکلات و چالش‌های سال گذشته بر وضعیت کشور در سال آینده نیز سایه خواهد افگند و اگر در این سال به مشکلات جدی کشور توجه لازم صورت نگیرد، ممکن به ادامهٔ حکومت کنونی نقطهٔ پایان بگذارد.

در این بخش تحلیل به چالش‌های فراراه حکومت وحدت ملی در سال ۱۳۹۵ پرداخته شده است.

## صلح

حکومت وحدت ملی در نخستین گام های خویش سیاست خارجی کشور را برای رسیدن به صلح فعال نمود. رئیس جمهور غنی نخستین سفرهای خارجی خویش را به عربستان سعودی، چین و پاکستان به هدف آغاز گفتگوهای صلح با مخالفین مسلح حکومت، انجام داد. در نتیجهٔ همین تلاش‌ها نخست در شهر ارومچی چین نشستی در مورد صلح افغانستان دائر گردید، ولی نتیجهٔ مشخصی را در پی نداشت. پس از آن در منطقهٔ سیاحتی "مری" در نزدیک اسلام‌آباد نخستین نشست گفتگوهای مستقیم میان نماینده‌گان طالبان و حکومت افغانستان صورت پذیرفت.

پروسۀ مری نیز در همان اوایل پس از افشای خبر مرگ ملا محمد عمر متوقف گردید و روابط میان افغانستان و پاکستان برای نخستین بار پس از تشکیل حکومت وحدت ملی روبه خرابی نهاد. پس از پنج، شش ماه روابط پرتنش میان دو کشور، به همکاری کشورهای منطقه و سازمان ملل متحد یک بار دیگر بهبود یافت که در نتیجۀ آن مذاکرات چهارجانبه میان افغانستان، پاکستان، چین و امریکا برای یافتن نقشۀ راه گفتگوهای صلح افغانستان، آغاز گردید. باآنکه حکومت افغانستان به نتائج این مذاکرات خوشبین بود، ولی تا حال این تلاش‌ها نیز به حاضر کردن طالبان به میز مذاکره با حکومت افغانستان، نیانجامیده است.

در کنار این، اختلافات نظرهای جدی در داخل حکومت و سائر جهت‌های سیاسی، در مورد راه‌کار صلح حکومت افغانستان نیز وجود دارد. با در نظرداشت وضعیت امنیتی کشور در سال گذشته، می‌توان گفت که قضیۀ صلح یکی از چالش‌های جدی در سال آینده برای حکومت افغانستان خواهد بود. بنابراین صلح و ارادۀ واقعی برای صلح، به عنوان مهم‌ترین اولویت حکومت افغانستان در سال آینده متوقع است.

## امنیت

از لحاظ امنیتی در سال ۱۳۹۴ نه تنها مشکلات گسترده‌ای فراراه حکومت قرار داشت و به حیثیت آن لطمه وارد گردید، بلکه این سال خونین‌ترین سال برای افغان‌ها نیز بود، چنانچه تلفات ملکی در سال ۱۳۹۴ نسبت به سال‌های دیگر در یک و نیم دهۀ گذشته، به بالاترین حد خود رسید.

در اوایل سال ۱۳۹۴ خبرهای مبنی بر حضور گروه داعش در افغانستان به نشر رسید. هرچند در اوایل، بسیاری از خبرها در مورد حضور گروه داعش در افغانستان بنا بر تبلیغات رسانه‌یی بود و عملا فعالیت‌های آنان دیده نمی‌شد، ولی بعداً این گروه فعالیت‌های خویش را به خصوص در شرق افغانستان شدت بخشید و به این ترتیب وجود این گروه برای افغان‌ها خونبارتر ثابت شد. بر اساس گفته‌های وزارت دفاع افغانستان این گروه ٦٠٠ افغان را تنها در شش ماه اخیر به قتل رسانده است.[6]

اینکه در سال گذشته حکومت و طالبان هر دو بر ضد داعش جنگیدند، اکنون در اواخر سال چنان می‌نماید که این گروه تا حد زیادی در افغانستان سرکوب گردید و در سرکوب این گروه طالبان نیز نقش عمده داشت. جنگجویان طالبان در مناطق دور دست و تحت کنترول آنان با جنگجویان داعش جنگیدند.

---

[6] برای جزئیات بیشتر به لینک زیر مراجعه نمایید:
/http://www.aopnews.com/isisdaesh/daesh-killed-over-600-afghans-in-six-months-defense-ministry

از سوی دیگر، در شمال افغانستان نیز جنگ شدت گرفت و از فاریاب تا بدخشان شماری از ولسوالی‌ها به دست طالبان سقوط کرد و بالآخره زمینه برای سقوط ولایت کندز فراهم شد و در ٦ میزان ۱۳۹۴ شهر کندز به دست طالبان سقوط نمود. این اولین باری بود که پس از سرنگونی رژیم طالبان در سال ۲۰۰۱ این گروه یکی از شهرهای مهم و استراتیژیک در شمال کشور را به تصرف خود در آورد. سقوط کندز به صورت گسترده در رسانه‌های داخلی و بین‌المللی منعکس شد، اما پس از دو هفته دوباره به تصرف نیروهای افغان درآمد.[7]

با توجه به وضعیت امنیتی سال گذشته، افغان ها و جامعهٔ جهانی در مورد وضعیت سال ۱۳۹۵ به شدت نگران اند و حتی سال آینده را سال سقوط سیاسی حکومت می‌دانند. از همین‌رو وضعیت امنیتی در سال آینده چالش بزرگی برای حکومت افغانستان خواهد بود و چگونگی امنیت در کشور مستقیما با موفقیت سیاست‌های حکومت در مورد تامین صلح بستگی دارد. هرگاه حکومت موفق به تأمین صلح در کشور گردید، وضعیت امنیتی نیز بهبود خواهد یافت ولی اگر راه‌کار صلح حکومت افغانستان کارا ثابت نشد، روی وضعیت امنیتی کشور نیز تاثیر ناگواری خواهد داشت.

## فساد اداری

اشرف غنی پس از به قدرت رسیدن، وعده‌های زیادی در رابطه به مبارزه با فساد اداری به مردم افغانستان و جامعهٔ جهانی داد و در چند ماه اول گام‌هایی نیز در این مورد برداشته شد، ولی اقدامات حکومت در مبارزه علیه فساد اداری ناقص و متناقض بود. هماهنگی میان مقامات بلندرتبهٔ دولتی در راستای مبارزه با فساد اداری وجود نداشت. همین دلیل بود که خلیل الله فروزی متهم اصلی قضیهٔ کابل‌بانک از بند رها گردید و قرارداد یک شهرک نیز با وی به امضاء رسید. بعداً به دلیل واکنش‌های گسترده، این قرارداد لغو و او را دوباره راهی زندان کرد.

در سال گذشته نه تنها اینکه میزان فساد اداری در کشور کاهش نیافت بلکه نسبت به سال ۲۰۱۴ افزایش نیز یافت. بربنیاد گزارش سالانهٔ سازمان بین‌المللی شفافیت، افغانستان از چهارمین کشور فاسد جهان به دومین کشور فاسد در سال ۲۰۱۵ نزول کرد و جامعهٔ جهانی اکنون نیز، فساد را بزرگترین چالش در برابر حکومت افغانستان می‌داند. اگر حکومت افغانستان در مبارزه علیه فساد در سال آینده ناکام ماند، در کنار مشکلات دیگر در جلب کمک‌های جامعهٔ جهانی نیز با مشکلات فراوان روبرو خواهد شد.

[7] مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی، تحلیل هفته، شمارهٔ ۱۴۹، آنلاین:
http://csrskabul.com/pa/?p=1912

## مهاجرین

گرچند موضوع مهاجرین افغان در کشورهای همسایه جدی است، ولی در حال حاضر قضیهٔ مهاجرین افغان در اروپا موضوع حساس و جدی‌تر است. سال گذشته حدود ۲۵۰۰۰۰ افغان که اکثریت آنها را قشر جوان تشکیل می‌داد، از راه‌های پرمخاطره به اروپا رفتند.[8] این مسئله از چندین ناحیه تأثیرات منفی بر افغانستان گذاشت؛ مقدار زیادی پول از کشور خارج گردید و جوانان آموزش دیده راهی کشورهای اروپایی شدند. از سوی دیگر، اکثریت افغان‌هایی که به کشورهای اروپایی رسیده‌اند به حیث پناهنده در آن کشورها پذیرفته نمی‌شوند و مجبور به بازگشت به کشور هستند. بازگشت پناهجویان افغان از اروپا باعث فشارهایی زیادی بالای حکومت خواهد شد.

تمدید میعاد کارت‌های مهاجرین راجستر شده در پاکستان و راجستر نمودن مهاجرین ناراجستر در این کشور چالش دیگری برای حکومت در سال آینده خواهد بود، زیرا پاکستان برخلاف تعهدات خویش تاهنوز اقدام به این کار نکرده است.

## اقتصاد

اقتصاد کشور در سال گذشته در وضعیت بدی قرار داشت. بی‌کاری در این سال به اوج خود رسید، میزان سرمایه‌گذاری نسبت به سال‌های گذشته ۳۰ درصد کاهش یافت و ارزش افغانی نیز در این سال کاهش بی‌سابقه داشت. اگر در سال آینده نیز اقتصاد کشور در چنین وضعیتی قرار داشت، بر آیندهٔ حکومت وحدت ملی تاثیر منفی فراوان خواهد داشت. در عرصهٔ اقتصاد بزرگترین چالش بی‌کاری است که همه افغان‌ها مستقیما متأثر می‌سازد؛ ولی اگر معضل بی‌کاری تا حدی حل گردید چرخهٔ اقتصادی در کشور روی خواهد داد و به صورت تدریجی مشکلات دیگر در این عرصه را نیز از بین خواهد برد.

[8] مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی، تحلیل هفته، شمارهٔ ۱۵٦، آنلاین:
http://csrskabul.com/pa/?p=2046

## اختلافات داخلی حکومت

تقسیم ۵۰-۵۰ قدرت میان داکتر عبدالله و اشرف غنی، وضعیت کشور را در سال گذشته با مشکلات زیادی مواجه نموده بود و این مشکلات باعث گردید تا پس از یک و نیم سال عمر حکومت وحدت ملی، کابینۀ این حکومت تکمیل نگردد. اختلافات داخلی حکومت باعث شد تا اکثر ولایات توسط سرپرست‌ها اداره شوند و حکومت در مشکل اصلاحات انتخاباتی به نتیجه‌ای دست نیابد و در نتیجه‌اش انتخابات پارلمانی آینده نیز با سرنوشت مبهم مواجه گردد. در عرصۀ سیاست خارجی نیز به دلیل اختلافات داخلی تصامیم ضد و نقیض اتخاذ گردید.

اگر اختلافات داخلی حکومت در سال آینده نیز در چنین وضعیت قرار داشت و سران حکومت وحدت ملی موفق به از میان برداشتن اختلافات درونی خویش نگردیدند، ممکن حکومت فعلی را تا سرحد سقوط برساند.

پایان

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com - www.csrskabul.net

شمارۀ تماس دفتر: 784089590 (+93)

**ارتباط با مسؤولین:**

دکتور عبدالباقي امین، رئیس مرکز مطالعات استراتژیک ومنطقوی: 789316120 (+93) abdulbaqi123@hotmail.com

حکمت الله ځلاند، مسؤول تحقیقات و نشرات: 775454048 (+93) hekmat.zaland@gmail.com

**یادآوری:** لطفا نظرات و پیشنهادات خود را جهت بهبود مطالب این نشریه به ما ارسال دارید.